# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Ideological | مسایل ایدیولوژیک |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعي


۲۸ سپتمبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۱۰

**۲۱- تسليم :**

تسليم، په لغت کې د سپارلو، ځان سپارلو، غاړه اېښوولو، درود ويلو، سلام کولو، منلو، اعتراف کولو، استرداد او داسي نورو په ماناوو راغلئ دئ[۱] . تسليم، په تصوفي او عرفاني اصطلاح، د قضأ هرکلي؛ او الهي مقدراتو ته د بي قيد و شرطه ځان سپارلو په مانا دئ[۲] . د متصوفينو او عارفانو له نظره، د تسليم مقام د رضا او توکل تر مقامو لوړ دئ؛ ځکه په توکل کي، سالک خپل کار الله تعالى ته سپاري؛ په بله ژبه لوى ښبتن خپل وکيل ګڼي؛ اود هغه په وکالت زړه خوشاله کيي (کوي) . په رضا کي، سالک د حق تعالى له هري پرېکړي او هري پېښي سره خپله خوښي ښيي؛ خو په تسليم کي، سالک له هر ډول اړيکو او تعلقاتو څخه پرېکون کيي؛ له خپلي خوښی، هوډ، واک او انتخاب څخه په بشپړه توګه لاس اخلي . خپل هرڅه د لوی پروردګار د خوښی او وصال په هيله، هغه ته سپاري . په دي لوړعرفاني مقام کي، د صوفيانو اوعارفانو په اصطلاح، سالک ته بوازي انساني نوم پاتيږي؛ زړه او اروا يي ټوله د معشوق او معبود په مينه ډکيږي؛ بشري او انساني خويونه يي ګرده له منځه ځي . سالک د خودی او ظاهري اړيکو له بنده خلاصيږي . ځينوعرفاني انديشه پردازانو، دا مقام د« فنأ » او « تخلقوا با خلاق الله » په نومو هم ياد کړئ دئ .

د اسلامي تصوف او عرفان وتلي انګرېز ليکوال اوکره کتوونکي - ر. ا. نيکلسن ( ۱۸۶۸- ۱۹۴۵م ) په خپل مشهور اثر « د اسلام صوفيان » کي، د تسليم د مقام په اړه د اسلامي تصوف او عرفان دا عبرتناکه کيسه راوړې ده : « يو درويش نابېره د دجلي[۳] سيند ته ولوېدئ . يو چا وليد، چي لامبو يي نه ده زده؛ او اوبه يي

شېبه په شېبه ډوبيي؛ نو يي ور ړغ کړه : او درويشه ! چا ته ووايم، چي له اوبو دي راوباسي؟ درويش ورته وويل : نه؛ سړي ورته وويل : نو غواړې، چي ډوب سي! يا؛ درويش ور غبرګه کړه . سړي بيا ور ړغ کړه؛ نو څه غواړې؟ غواړم د خدای اراده عملي کړم؛ بله هيڅ غوښتنه نه لرم؛ درويش په جواب کي ورته وويل ۴ . » په دې توګه ګورو ، چي درويش د ژوند او مړيني په باب، د خپل خالق هري پرېکړي ته ځان سپارلئ ؤ؛ او په ورين تندي د هغي منلو ته تيار ؤ؛ ډوبېدل او ژغورل دواړه ورته يو شان وه .

زموږ ژور بين عارف، علي محمد مخلص، هم په خپل ديوان کي، د تسليم ستره عرفاني مرتبه په غَوَر سره څېړلې ده . هغه، په يوه غزله کي د تسليم مقام، د اسلام د ريښتيني مفهوم څرګندوی بولي؛ او عرفاني اړخ يې په دې ډول بيانيي :

چي تسليم يي که خپل ذات، صفات و حق ته
د عذاب، راحـت لهٔ ملْګه تللئ پيش دئ
د اسلام معنی تسليم دئ که پو هـېږې!
د تسليم صـاحب د شاه نبي پرکيش دئ
د تسليم څښتن خلاص شوئ کـه باور کړې!
په جهان کښي د شيطان، نوسک له ريش دئ

مخلص، د همدې غزلي په څو نورو بيتو کي، د مُسلماني فلسفي او عرفاني مانا، په خورا ژورتيا او ښکلا سره انځوريي :

دا نېستي، حق پرستي مُسلماني شوه
دا هستي، خود پرستي تر کُفر بيش دئ
د مولا په عنايت په ځني خلاص شـي!
د هستی د کفر بد نيـوونئ لېش دئ

په دې ډول وينو، چي په عرفاني اسرارو واقف مخلص، يوازي د هغو کسانو د اسلام او مسلماني دعوه ريشتيا بولي، چي ځانونه يي د خالق په سوځونکي مينه کي، د دې دروغجني او موهومي هستی له قيده ژغورلي يي . د د ې خبري مانا دا ده، چي د مادي دونيا په ناولي ډنډ کي ډوب کسان هيڅکله د ريښتيني مسلمانی او تسليم مقام ته نسي رسېدلای .

د نور مالومات دپاره وګورئ : د ځينو مخکښنو عارفانو له نظره د اسلامي تصوف او عرفان نور مقامونه؛ لکه توبه، توکل، خوف او رجأ، ذکر او فکر ، رضأ، زهد، شُکر، صبر، فقر، قناعت، دونيا، عقبا او مولا او داسي نور .

لمنليکونه

۱ عميد ۱: ۶۸۴ ؛ . Wehr 426

۲ سجادي ۱۲۷ .

۳ دُجله، په عراق کي، د هغه پخواني او مشهور رود( سيند)نوم دئ، چي له بغداد څخه تيريږي . بين النهرين د بشري تمدن هغه لرغوني سيمه ده، چي د دجلي او فرات رودو تر منځ پرته ده .

4 Nicholson 39.

**۲۲- تشبیه او تنزیه :**

تشبیه، په لغت کي یوله بله ورته کولو، مقایسه کولو، پر تله کولو او داسي نور و ته وایي[۱] . البته، تشبیه په ادبیاتو کي د بدیع د پوهي ډېره مشهوره اصطلاح ده، چي خورا زیات ډولونه او مثالونه لري . دلته یې له موضوع څخه د لیري والي په وجه، له یادوني ډډه کوو . د تنزیې عربي مصدر، له عیبو، نیمګړتیاوو او بدییو څخه د پاکولو، خوندي کولو او لیري کولو په مانا دئ[۲] . د تشبیه او تنزیې عربي کلیمي، زموږ د عالم او عارف شاعر، علي محمد مخلص، پر عرفاني شاعرۍ سربېره، د اسلامي تصوف او عرفان له مشهورو او مهمو اصطلاح ګانو څخه دي . په « فرهنگ لغات و تعبیرات عرفانی » کي، تشبیه او تنزیه داسي بیان سوي دي : « تشبیه د کولو په څېر ده؛ او تنزیه د هغي پر خلاف ده . حق په تعیناتو کي ظهور مومي . تعینات له یوې خوا عین دي ؛ او له بلي خوا غیر . غیر، بې اعتباري چارو بل څه نه دي ؛ نو باید هغه د تشبیه او تنزیې تر منځ وپېژندل سي . دا د پوهي یا عِلم پړاو دئ نه د عین پړاو؛ ځکه په عین کي ټول عین دي[۳] . » د ډاکتر سجادي په دې پېژندګلوی خو ښایي پر نالوستو او لږ لوستو کسانو سربېره، ډېر لوستي او پوه کسان هم و نه پو هیږي . د ې ښاغلي لیکوال د تشبیي او تنزیي عرفاني اصطلاحات په داسي مسلکي او اختصاصي ټکو کي نغښتي او مروړلي دي، چي ښایي له ده پرته یې بل هر چا ته هضم ډېر ګران او آن ناشونی یي (وي ) .

**نو تشبیه او تنزیه څه ته وایي ؟**

که په ساده او اسانو ټکو و وایو، له انساني ځانګړتیاوو او مشخصاتو سره، د الله تعالی د ذات ورته والی د تصوف او عرفان په اصطلاح، تشبیه بلل کیږي، چي په انګرېزي ژبه ورته « Anthropomorphization» وایي . تنزیه، د تشبیې پر خلاف، له ځینو صفتو او خصوصیتو څخه، د لوی پروردګار د پاکوالي او سپېڅلتیا په مانا ده .

لکه څنګه چي د ډاکتر ا. رشید په بیان کي راغلي دي، په شریعت کي، د بې ساري او لایزاله پروردګار هستي، هیڅکله له خپلو مخلوقاتو سره نسي پرتله کېدای . د هغه ذات له مخلوقاتو څخه بېخي بېل او جلا دئ . له انسان سره د حق تعالی تشبیه کول؛ یا بالعکس له حق تعالی سره د انسان ورته کول ، د شِرْک یوه بڼه او له تکفیر سره مترادف عمل ګڼل سوئ دئ[۴] . د تصوف او عرفان لارویان، په تېره بیا د وحدت الوجود د عرفاني او فلسفي مکتب پلویان په دې باور دي، چي د حق تعالی ذات په هر موجود کي، له ورایه جلوې کیي . د صوفیانو او عارفانو په اند، د الله تعالی ذات د شهودي عالم په ټولو شیانو او حوادثو کي، د تنزلاتو او تَعَیُناتو ( بېلابېلو عالمو) تر ټولو پړاوو وروسته ښکاره کیږي . [ د لاهوت، جبروت، ملکوت، ناسوت، هستی او نیستی ، وحدت او کثرت او داسي نورو عالمونو تر سر لیک لاندي مو په لنډه توګه اشاره کړې ده، چي د لوی ښبتن د وجود انوار یا وړانګي څنګه او دکمو ( کومو ) تنزلاتو او تعیانو تر تېرولو وروسته، د مادي عالم په هر موجود او هره پېښه کي ظهور مومي .]

سره له دې چي د الله تعالی ذات، په هر مادي جسم او هره پېښه کي، د بېلابېلو صفتو او نومو، تعیانو او تنزلاتو په بڼه، د لمر په څېر ځلېږي؛ خو بیا هم د سپېڅلي قرآن د شورا د سورت د یوولسم آیت ( لیس کمثله شیءً ) له ارشاد سره سم، د کایناتو هیڅ شی له هغه ابدي او ازلي، لوی او ناپایه، ثابت او بې بدلونه ذات سره د ورته والي او پرتلي وړ نه دئ . لکه څنګه چي مو د ذات او صفتو تر عنوان لاندي، د لوی پروردګار د ذات صفتو ته اشاره کړې ده، د رب جلیل د ذات دا یوازي والی، بېلوالی او نه ګډون د اسلامي تصوف او عرفان په ژبه، تنزیه

ګڼله کيږي؛ د مثال په توګه الحی، القيوم، سامع، بصير، خبير، ويوونکی، عليم ، قادر او داسي نور يوازي او يوازي د باري تعالی د ذات صفتونه دي . هر چا او هر څه ته د دې ذاتي صفتو مخالف او متضاد صفتونه کارولای سو ؛ خو هيڅکله د ښتن تعالی ذات ته د دې صفتو په ضد يا مخالف صفت سره نسبت او يادونه نسو کولای . که انسان ته د مړه، ړانده ،کاڼه، ګونګي، ناپوه، بې وزلي او داسي نور و صفتونه استعمال کړو، هيڅ ستونزه او پېچومه نسته؛ ځکه دا ګرده صفتونه په انسان کي نغښتي دي؛ مګر [ العياذبالله ] د خدای تعالی بې مثله ذات په داسي صفتو متصف ګڼل، د توحيد ټول بنسټونه له منځه وړي؛ او د شِرک لو( لويه) ګونا را منځ ته کيي .

د عرفاني ادب مخکښ لاربنوود- حکيم سنايي غزنوي( د پينځمي هجري پيړی د دوهمي نيمايي په لومړييو يا منځنييو کلونوکي، په غزني کي زېږېدلئ؛ او د ۵۲۵ - ۵۴۵ هـ ق کلونو تر منځ مړ سوئ) په خپل ستر عرفاني اثر « حديقة الحقيقة و شريعة الطريقة » کي د حق تعالی په تنزيه کي داسي وايي :

« . . . حادث او ز کهنه و نو نيست  
اوست کز هستها بـجز او نيست  
بنهايت نه ملک او مـعروف  
ببدايت نه ذات او موصـوف  
زرق و تلبيس و مخرقه نـخرد  
سوی توحـيد و صدق به نگرد  
ديدۀ عقل بين گزيد حـق  
ديدۀ رنگ بين نبيند حق  
باطل است آنچي ديده آرايد  
حق در اوهـام آب و گل نـايد

***

حکيم سنايي، عرفاني سالکانو ته په روښانه ټکو زېری ورکيي : که له بشري خويو او جامو څخه را ووزئ، هر ځای به د خدای ننداره وکئ . د ده عارفانه بيان دئ :

چون برون آمدی ز جــان و جای  
پس ببينی خدای بخــدای  
بار توحيد هرکسي نکشد  
طعم توحيد هر خسی نچــشد . . . ۵ »

په عرفاني اسرارو واقف عارف،علي محمد مخلص، په خپل ديوان کي د لوی ښتن د تشبيه او تنزيي صفتو ته داسي رنګينه جامه ور اغوندي :

ته بې حد، بې چون، عظيم محيط دريا يې !  
درست دانا، بينا، شنوا، توانا، ګويــا يې !  
ځړه نور يې د عارف پر زړه بربښـنا کړې !  
يو وجود يې په ښو اسمه مسمـا يې !

***

چي په کُل صفت يې و ليده مخلـص شه

په تشبیه، تنزیه موصوف کامل خدا یې !

په یوه بله غزله کې، د خالق تعالی د تشبیې او تنزیې د صفتو پر یووالي او پیوستون ټینګار کیې؛ او سالکانو ته د دواړو د ثبوت لارښوونه بیانیې :

حق په کُل صفت موصوف شه
که تشبیه، تـــنزیه اودس دئ
که تشبیه تنها ثابــت کړي
مُقید و کړه تــه پس دئ
که صفات په تنـزیه کړي
حد، حدود یې څرګند بس دئ
هر چې دواړه یې ثابت کــړه
دی بینا یګــانه بس دئ

بل ځای، د تشبیه او تنزیې عرفاني تیوري، د ظاهر او باطن په فلسفي نړۍ کې سپړي . مخلص، د خپل دې عرفاني نړۍ لید له مخې، هغو کسانو ته د ړندو په سترګه ګوري، چې موجودات وینې؛ خو د هغو پیدا کوونکی او فنا کوونکئ یې تر سترګو نه مالومیږي . د ده په نظر ، رسېدلئ او کامل عارف هغه څوک دئ، چې په هر شي کې، د خپل خالق روښانه وجود وګوري:

چې د حق په ذات کښې غرق وینې ځانونه
عارفان په پاک دریاب کښې مطــهر شوه
چې ماهی یې په نظر کښې، دریاب پټ وي
د باطن په دید ړانــده دغه بشر شوه
چې دریاب ګوري، ماهی ځنې غایب وي
عاشقان د زړه په سترګو دیــده ور شوه
چې ماهی، دریاب یې دواړه په نـــظر کښې
دا لیدوني عاقلان، صــاحب نظر شوه
چې تنزیه، تشبیه یې دواړه ثــابت کـړي
په دانش، بینش تر دواړو ګروهو بر شوه

د نور مالومات دپاره و ګورئ : د « عالم او د هغه ډولونه » تر سرلیک لاندې بپلابېل عرفاني عالمونه، ذات او صفتونه .

لمنلیکونه

۱ عمید ۱: ۶۸۵ ؛ Wehr 454.
۲ عمید ۱: ۷۳۷ .
۳ سجادی ۱۲۷ .
4 Rasheed 31.
۵ سنایی غزنوی ۶۶ .

پاته لري